مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۴/۰۱/۰۴

# له طالبانو سره ستونزي

د افغان جرمن آنلاین په سایټ کي مي د محترم انجنیر صاحب سلطان جان کلیوال مضمون«د طالبانو د حکومت په مخ کي پرتي ستونزي» تر عنوان لاندي یو لنډ مضمون ولوست چي له خپل هیواد سره د ښاغلي کلیوال د ریښتیني او بې غرضه میني نمایندګي کوي. ښاغلي کلیوال، په اصل کي، دا مضمون د ډاکتر صاحب عثمان ترکي د هغه مضمون په ارتباط لیکلی دی چي څو ورځی مخکی یې په آریانا افغانستان ویبسایټ کي د « طالبان در قطعنامه شورای ملل متحد به خطا رفته اند » تر عنوان لاندي لیکلی او د افغانستان، او په تېره بیا له طالبانو سره یې د ستونزو د حلېدلو لپاوره خپل نظریات وړاندي کړي وه.
زه د ښاغلي کلیوال ملي احساس ستایم او ښاغلي تره کي ته هم، د یوه وطن پال افغان په حیث، احترام لرم. مګر زه له ښاغلي تره کي صاحب څخه خپل یو پخوانی سوال یو ځل بیا تکراروم چي تاسي خو د طالبانو د نظام په لومړیو شپو ورځو کي افغانستان ته سفر وکړ او پخپله له ملاهبت الله سره مو هم لیدنه وسوه، چي ډیرو لږو او حتی استثنایی کسانو سره ګوري، او خپلي ګټوري مشورې مو هم ورکړې. هغوی تر دغه ګړي پوري ستاسي کومي مشورې عملي کړي دي؟ زه یقین لرم چي د ډاکټرصاحب تره کي جواب به د « هیڅ» کلمه وي. دغه راز له ښاغلي کلیوال څخه، د شخصي احترام او د ګرانښت په خاطر، دا سوال کوم چي تاسي په ریشتیا هم یقین لری چي طالبان به ستاسي او یا نورو افغان وطنپالو منورینو پر مشورو باندي غوږ ونیسي؟ که طالبانو، قدرت ته د رسېدلو څخه بیا تر نني ورځي پوري، په خپلو اعمالو او دریځونو کي فقط او فقط یو فیصد تغییر راوستلی وي نو زه په پوره ایمانداري ستاسي تر څنګ ولاړ یم، که څه هم چي زما ملګرتوب به، په وضع کي د تغییر راوستلو په لاره کي، چنداني ګټه هم ونه کړي.
طالبانو سره له هغه چي د نجونو د تعلیم او تربیې مخه یې نیولې ده، له کار او وظایفو څخه یې د ښځو د منع کولو کار ته، په خپل زور او شدت دوام، ورکړی دی؛ تازه یې په کابل کي ښځي او نجوني د بې حجابۍ په ګناه بندیانی کړي دي ( دا د نني ورځي خبر دی)
طالبانو اعلان وکړ چي د پخواني نظام څه باندي ۷۰۰ تنه مقامات بیرته خپل هیواد ته ستانه سوي دي. دوی دا خبره هر وخت ورسره زیاته کړې ده چي د پخواني رژیم مقامات دي د وزارتونو، معینیتونو، ریاستونو او دولتي وظایفو تمه نه لري بلکه هغوی کولای سي چي په هیواد کي ژوند وکړي. طالبان د افغانانو په حق کي دا ډېر لوی احسان بولي. که څه هم چي خبره داسي نه ده. د پخوانی نظام مامورین، په تېره بیا امنیتي کسان، ترور سوي او بندیان سوي دي او ډېر زیات ژورنالیستان وژل سوي او ډبول سوي دي.
د طالبانو د ټولي اداري د ملا هبت الله په نوم یوه ملا، چي هیڅوک یې لیدلای نه سي، په لاس کي دی او د ښونځیو تر مدیریتونو پوري د مقرریو او تغییر او تبدیل واک یوازي دغه ملا لري. تازه یې د هیواد په بېلو بېلو نظامي او ملکي برخو کي مقرری او تعیینات کړي دي او ټول یا مولوي، یا ملا، یا قاري او دغه راز کسان دي. موږ له مولوي، ملا او قاري څخه د کومو اجتماعي تغییراتو تمه لرلای سو؟ هیڅ بل افغان د کوم مقام د اشغالولو حق نه لري او دا حق باید یوازي مُلا او طالب ته خوندي وي؟
ملا هبت الله حکم کړی دی چي د هیواد په لویو لارو کي به ۷۵ جوماتونه جوړیږي. زه یقین لرم چي دا جوماتونه به په ډېرو پراخو ساحو کي په ډېر لوکس او عصري توګه جوړیږي او حتماً به د مدرسو کار ورڅخه اخیستل کیږي. او په میلیونو ډالر به وربانديِ لګول کیږي. په داسي حال کي چي نیژدې ۱۵ میلیونه افغانان په لوږه کي ژوند کوي، د یخنی په مقابل کي وسایل نه لري، په سل هاوو زره ماشومان ښونځیو ته د تللو پر ځای د کور د خرڅ خوراک برابرولو لپاره په شاقه کارونو لګیا دي او تازه لا له پاکستان او ایران څخه تر یو میلیون زیات افغانان، چي نه کورونه او نه کارونه لري، هیواد ته ستانه سوي او په زور له پاکستان او ایران څخه ایستل سوي او هر څه یې ورڅخه غصب سوي او ضبط سوي دي. دلته به د لومړي توب حق د چا وي؟ تاسي یو وخت په لویو لارو کي د جومات ضرورت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

احساس کړی دی؟ موږ هر وخت له کندهار څخه تر کابل پوري په پنځو ساعتونو کي رسېدلو او په لاره کي کله ناکله د یوه لمانځه ضرورت لیدل کېدی او د خدای پر سپین میدان به جمع درېدله. جومات ته ضرورت دی مګر نه هغه ډول جوماتونه چي د ترکیې پر ماډل به جوړېږي او په میلیونو ډالر به وربانديي لګول کیږي.
خبري مي اوږدې کړې. د طالبانو نظام د مدرسو او حجرو نظام دی. تازه یې حکم کړی دی چي له کتابخانو څخه به غیر حنفي کتابونه جمع کیږي او زه یقین لرم چي ټول به سوځول کیږي او له منځه وړل کیږي. او لا « دا د پټي سر دی پټی وروسته سورور دی» او یا د کندهاریانو په اصطلاح ترپان یې په پا کي دي.
که د طالبانو رژیم له لومړۍ ورځي تر نن پوري هره ورځ سختیږي او پر ښځو، منورینو او عصري علومو باندي ورځ په ورځ حلقه تنګیږي نو بیا موږ ولي د اصلاح او بهتری تمه ورڅخه وکړو؟ زه کلیوال صاحب او ډاکتر صاحب تره کي ته په بشپړ احترام او وطني مینه دغه سوال مطرح کوم. نه مبارز یم؛ نه سیاستمدار یم، نه ځوان یم، نه د مبارزې او سیاست انرژي او اهلیت لرم. فقط یو پردېس افغان یم او هر څه له هیواد سره د خواخوږی له امله لیکم. خدای دي وکړي چي څوک راڅخه آزرده سوي نه وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ